مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نو یسنده لزوما نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړن: سید عبیدالله نادر
۲۰۱۹/۰۶/۱۹

# د نړی پراخوالی

## د دری ادب څخه د **شیلر** د دي ادبی پارچي ژباړه په پښتو ادب کې



زړه می غواړي ، چې د باد په وزرونو کښینم ،او هغه څه چې ځیښتن تعالی د تیارو او سرګردانی له مینځه پیدا کړي ،هغه تر خپو لاندي پی کړم .تر څو مګر یوه ورځ د دي پراخه او بیکرانه سمندر پای ته ورسیږم ، او هغه دنیاګی ته ورسیږم ،چې پروردګار د عالمیانو هغه آخري سرحد دخلقت خپل تاکلی دی .
زه له همدا اوسه په دي اوږود او بی انتها سفر کې ،ستوري په خپل تلپاتي ځلیدو کې وینم ،او وینم چې د کایيناتو په زړه کې د زرګونو کلنو لاره پی کوي ،تر څوخپلي ټاکلی نهايي دنیاګی ته وسیږي .زه تر دي حده بسیا نه کوم ،او لاهم مخ په وړاندی ځم ،تر هغه ځایه ځم .چې نور د فلک ستورو ته په کې لاره نشته ، په ډیر زړور تیا ، د خاموشۍ او چوپتیا په قلمرو کې خپه ږدم . نا څاپه یوي نوي دنیا ګۍ ته ورداخلیږم ،چې د دي دنیا ګۍ په آسمان کې وریځی په حرکت کې دي ،او پر ځمکه یې دریابونه او سمندرونه بهیږي،او پراخه ځنګلونه غزیدلي دي ، په یوه ډیره نرۍ چوپه او د سکوت نه ډکه لاره کښې ،په ژور سوچ کې روان یم .چې نابېره یو لاروۍ زما خواته نژدي کیږي .او راباندي ږغ کوی:
ــ ای مسافره! ودریږه په دي بیړه ،کوم ځای ته روان یې ؟ زه ورته وایم هغه دنیا ته چې آخر او پایان نه لري ،هغه ځای ته ځم چې پروردګار د عالمیانو د خپل خلقت آخری سرحد ټاکلی ،او هلته نور ذیحیات سانه وباسي ،یعني ذیروح نشته ،هغه راته وايي :
ــ اوه ......... ودریږه بی ځایه په ځان دومره لوی تکلیف او رنځ د سفر مه قبلوه ،مګر ته نه پو هیږي چې غواړې چې په پراخه او بی پایانه عالم کې قدم کیږدې .........په دي پوه شه چې تر دي پورته تاته اجازت د سفر نشته.
.......... ای زما تند پروازه خیاله نور دي خپل پولادین وزرونه وتړه ، او ته ای زما د خیال ګړندي بیړۍ نور دي په همدي ځای دروند لنګر واچوه ، ځکه تاته تر دي پورته اجازت د سفر نشته.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ